# لومړۍ برخه

## فلکلور ( Folklore )

د خلکو ټولنيز ژوند او د ژوندانه طرز او دود ته فولکلور وايي.[1]همدارنګه فلکلور ته په بېلوبېلو ژبوکي د فرهنګ عامه ، خلک پېژندنه ، دانش عوام ، خلقيات ، اوهم د اساطير او مېتولوژۍ نومونه ورکړل شوي دي . چې هريو د خلک پېژندني او د خلکو د فرهنګ معنی ورکوي .

سربېره پر دې بنايي يادونه وشي،چې (( فلکلور )) يوه انګليسي جمله ده ، چې د ( خلک ) او ( لور ) څخه جوړه شوې ( خلک ) د خلکو او عوامو معنی ورکوي او ( لور ) د علم او پېژندنې په معنی راغلی دی ، چې په مجموعي توګه دنيکونو عقايدو د اجداوو رسمونه او ددوی دعقايدو او د همدې رسمونو دڅېړنې معنی هم ورکوي .

مېتولوژي او روايات ټول له عاميانه افکارو څخه راغلی ، چې ددوی دعقاېدوغوښتنو او تعبيرونو ممثل دی . په دې افکارو، رواياتو ، او افسانوکې په غالب ګومان بهرنی او نه ټاکونکی او طبيعی عنا صرو خواوې ستره برخه لري . چې د شخصي عناصرو او افرادو په قالب کې را مينځ ته شوې او هغه څه چې په دې اساطير ( مېتولوژۍ ) او فلکلور کې د زياتې پاملرنې وړ دي هغه د فولکلور سمبوليکي خواوې او د اتلا نو پېټ او مرموز کارونه دي . له دې اساطيرو او افسانو څخه د مړو او [illegible]

Ketabton.com

په اصطلا ح کې فلکلور : دخلکو او ولسونو عنعنو او عقيدو پېژندنې علم دی .

## د فلکلور يا اولسي ادب پيدايښت :

[1] فضل مير خټک ، ففبليات (( ادبي اصطلا حات )) پېښور اکيډمي ( ١٩٩٩ ) کال ٣١٦ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفلکلور دپیدایښت او منځ ته راتګ په برخه ښایي ووایو چې : هغه وخت چې بشر د لومړي ځل له پاره د طبیعت له مشا هدو سره مخامخ شو نو ددې مو جوداتو او اشیاوو په مقابل کې چوپ او غلی پاتې نه شو او دخپل فکر د ډول سره سم یې څېړنه پکې وکړه. له هغې ورځي راهیسې چې انسان دوجود په ډګر کې قدم ایښی دی تل یې زیار ایستلی ، چې د اشیاوو او موجوداتو حقایق او ریښې ځانته معلومې کړې نو ځکه له هر څه سره چې مخا مخ شوی فکر او غور یي په کې کړی ، څو یې یوه نتیجه لا س ته راوړي او دخپلې پلټنې دحل دتسکین له پاره یې دهر نا معلوم دمعلومولوپه غرض منډې را منډې کړي دي او د خپل محدود فکر له غوښتنې سره سم یې تر یوه حده د خپل ځان قناعت حاصل کړی او څرنګه چې دې په هغه وخت کې دخپل ژوند لومړني پړاوونه یې وهلي او فکري وده یې تر دې حده نه ده رسېدلې ، چې دپیداېښت ټول ارونه او معماوې حل کړي او نه یې دومره تجربه درلوده چې دخپلو تجروبو حاصل دخپلې لا رې ډیوه وګرځوي او دهغې په رڼا کې خپلوڅېړنوته دوام ورکړي نو په یو ډول خیالبافیو او موهماتو یې لاس پورې کړ او د هر څه له پاره یې اندې علت او دلیل وټا که چې همدادلیلونه او علتونه ورو، ورو درواياتو ، داستانونو ، عقایدو او افکارو په شکل واوښتل او فلکلور یې منځته راوړ.

فلکلور له لومړي ځل څخه سینه په سینه دداستان ، کیسي ، فکاهې ، متلونو او انګېرنو په شکل په منظوم اوپه غیرمنظوم ډول خو په شفاهي تو ګه تردې دمه رارسېدلی .

فلکلور ي کیسي ، داستانونه او روایات باید ونه ږل شي که څه هم دزماني په کړلېچونوکې اوښتي رااوښتې خپل ابتدایي شکل یې له لاسه ورکړی دی . خو بیا هم یو لړ تاریخي وقایع اود ملتونو دپېژندګلوۍ ډېر رازونه په کې پټ دي . مېتولوژۍ خپل قدر ښودلی او یو لړ تاریخي او د بشر پېژندنې پرابلمونه یې حل کړي دي .

خلکو په خپلو فلکلوریکو اثارو کې هغه هنري څېرې ښودلې دي ، چې په خلق کیدوکې یې له عقل ، ابتکار ، فکر اواحساس څخه کار اخستل شوی دی . لنډه داچې مونږ هغه وخت دمبارزو انسانانوپه تاریخ پو هېدلی شو چې دفلکلور په هکله کره او پوره معلومات ولرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## داولسي ادبياتو ا هميت :

اولس هغه چينه ده چې ژوندترې را ټوكيږي . اوژوند د انساني فطرت د بېلا بېلو انځورونو هنداره ده فلكلور هغه ستره كلتوري پانګه ده چې ملت په معنوي لحاظ ژوندى ساتي . ديو ملت فلكلور دهغې ملت ، فرهنګ ، ژبه عنعنه ، او اسا طيري پديدې ژوندۍ ساتي چې همدغه پورتنۍ پديدي دملت روح ګڼل كيږي .

## دپښتو اولسي ادبياتو ځانګړني :

١_ پښتو اولسي منظوم ادب دعربي عروضو او ، او اوزانو تابع نه دى ، خپل ملي ، اولسي وزنونه لري په سېلاب او هجاد شنني ورډي .

٢_ اولسي ادبيات دموضوع له كبله داولسي توب اوكليوالي ټولنېزو، اقتصادي ، سياسي او كلتوري اړيكوڅرګندونكي دي .

٣_ ژبه يې ساده ، سوچه او دخلكو يا اولس له ورځنۍ محاورې سره برابره ده .

٤_ ډېره مبالغه او غير له حقيقته يكې بل شى نه ليدل كيږي .

٥_ افسانوي رنګ يې تربيوي اړخ لري ، نه ويرونكى .

٦_ دپردو ژبوله تسلطه خلاص دى .

٧_ ښكلا، اسانوالى ، اوريښتياوالى په ښه بڼه په كې ځان ښكاره كړى .[1]

## دفلكلورمعنوي او مادي ارزښتونه !

مادي اړخ ! اوس چې تاسو پوه شوئ چې فلكلور په اصل كې داولسونودعنعنو او عقيدوپوهه ده نودابه هم له يا ده ونه باسو، چې اولسي ادب دخلكودمادي اومعنوي اړخ ته په پاملرنې داولس دپوهانو له خوا په شعوري توګه رامنځته شوى بلكې عامووګړو رامنځته كړى . كه مونږ فلكلورته بدوي ياكليوالي ساينس ووايو هم سمه برېښي ، ځكه چې فلكلور داوسني ريښتينى او ريالستيكي نړۍ دفورم اوبڼې پېش ګويي داوسنى پرمختللى نړۍ دپرمختګ فكرونه دخلكو په ذهن كې تداعي كړي كه چېرته پخوانوكيسو او افسانوته ښه ځير شو دا به ترې جوته

(۱) ادب پوهنه ، سيدمحى الدين (( هاشمي )) داريک کتابتون ، کال ( ١٣٨٠ هــ ش ) ١٠٨ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شي چې په رښتياهم افساني او خيالي انگېرنې داوسني ساينس زيږنده دي . كه ديوان په افسانوكې له يوځاى ځخه بل ځاى ته دسترگوپه رپ كې ځان رسوي يا كوم افسانوي اتل په يواځې تن له زروكسانوسره جنگيږي او دويښته په سوځيدوددېوانو او ښاپيرو حاضريدل دادهمدې زماني دالوتكې ، مبائيل ، انټرنيټ اوتوغندي پخوانۍ ببلگې دي ، چې داولسي ادب دمادي اړخونوكره او ريښتيني نمائنده گي كوي . په مادياتو كې دسرچينې په استاځيتوب كار او زحمت دى كه كركيله ، تركاڼي او نورو جنگي مواردو كې راښكيلول دشفاهي ادب دريښتيني اولسيتوب ټولنيز هدف دى .**

**زمونږ په پښتو ادب كې مادي اړخونه هم دنړۍ مترادف ځكه دي چې دې كهول دمادي پرستوپر وړاندې خپل عكس العملونه ښودلي ، نو په همدې اساس يې خلک دې ته چمتوكړي ، چې دكركيلې زيار وزحمت او پوندگرۍ له لا رې ځان خپل هدف ته ورسوي ،چې ددې ببلگې مونږ په قبل الميلادكې لرو .**

**دپښتو او اريايانو په مشهور كتاب ( ويدا ) كې راغلي : پوه او دانشمندانسان تل په كرهڼه كې بوخت وي .**

**همدارنگه په بل ځاى كې وايي :**

**اى انسانانو ! دغنمو او نوروشيانو د كرهنې له پاره په سپاره ، ځمكه څيرې كړئ ، ښكلي اربې وچلوئ او ځانونه پرې وساتئ[(۱)] په اوستاكې _ چې دپښتنو او افغانانو دعنعنو او ميتولوژۍ كتاب دى _ زردشت ليكلي ځانونه په كرهڼه او مالدارۍ تشويق كړى [(۲)]**

**همدارنگه د تيرو اسلا فوپه څېر اوسني پښتانه هم دكرهنې او زراعت له لا رې خپل دژوند ستونزې حلول غواړي لكه داژوندى بېه :**

شـــولې ټكومـــــه تـــــابه واده كـــــــــړمـــــــــــــــه [(۳)]

پــــــه خداى ( ج ) مې دې قسم وي پلاني ته به دې وركمه

**همدا اوهمدي ته ورته ببلگې دپښتوادب په لمنوكې ځاى په ځاى ليدله كيږي .**

---

(۱) عبدالحى ( حبيبي ) پښتوادبياتوتاريخ لومړى اودرېم ټوک ، دانش خپرندويه ټولنه پېښور ( ۱۳۸٤ هـ ش ) كال ٤۷ مخ

(۲) همدااثر ( ٤۸ ) مخ

(۳) محمد اسماعيل يون ، دپښتوشعرهندسى جوړښت ، دانش خپرندويه ټولنه ،( ۱۳۷۷ هـ ش )كال ۱۲۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**معنوي اړخ :** دادب آره موخه دخلکو او اولسونو روزنه او تربيه ده . که دهر اولس ادبيات وي دهم هغي ولس دمذهب او عقيدوي معنوي خصوصياتوپه کړلېچونوکي خړوبيږي اوداولس له پاره دانساني ارزښتونودغوښتلو په موخه په ټولنه کي رامنځته کيږي ، په پښتوادب کي هم په دې اړه ډېرې ځرگندوني ځای په ځای راغلي که مذهب ، تاريخ ، اوکه حماسه ده دپښتوشفاهي ادب کي ورته پوره ځای ورکړل شوی دی . او د خپل اولس يې په دې برخه کې پوره روزنه کړې ده . راځئ چې وگوروچې په پښتوادب کي تر کومه حده معنوي څواک غښتلی دی . [1]

وعده او ژمنه په پښتنوکې تر هر څه لوړه اوستره پانگه گڼل کيږي ، چې دلته همدااثر داسې راغلی :

يـــــــــوه وعـــــده را ســره کېــــــړده
چې د صراط په پله به يوځای سره ځونـه

ددې ترڅنگ چې پښتانه ځوانان څه ووايي پښتنې پېغلې هم دخپل ولس ځوانان د کار په مرحله کې تاند اوهاند ليدل غواړي اوداسې هيلې څرگندوي :

سپـــوږمـــی څــرک وهـــه راخــېــــژه
اشنـــا دگــلـــــولـوکـــوي گـــوتـــې رېبينـه

حماسه دپښتني کلتور په ځته کي داسي اخستل شوې چې لکه روح او جسم . کوم شی چې دپښتو ادب گانه گڼل کيږي هغه همداحماسه او وياړنه ده ، چې دوطن پرستی خوند په کې غالب دی . ددې په دليل مونږ دمېوندحماسه لرو چې :

کـــه پـــه مېـــونـــد کـــې شهيـــد نـــه شوې
خداپــږولا ليـه بې ننگی ته دې ساتمه[2]

همداسې که تاريخونوته مخه کړوپښتواولسي ادبياتو په هکله پوره پانگه لري ، دابېگه :

عبـــــــدالرحـمــــــانـــــه زوروره      دشاغاسي کلا دې ولې

---

[1] اريانادايرت المعارف ، ( دريم جلد ) پښتوټولنه ، کال ( ۱۳۴۳ هـ ش )
(۲) دهېواد انټرنيټي پاڼه ____________________ Hiwad .com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورانولـه

يـــــــا :

خــــــانـــــــه راځـــــــــــه دلـــــــــــبره

ډكـــــــــي لا رئ د جنكـــو لنـــدن تــه ځينـــه

دجنـــكـــــــو قـــــد ر يـــــي كـــم كـــــــــړ

امان الله تــه دې خداى ( ج ) لونـې وركـوينـه[١]

لنډه داچې دپښتو اولسي ادب له هره پلوه خورا بډاى دى هيڅ داسې اړخ ترې نه دى پاتې ، چې د ټولنې پوري اړه ونه لري .

## دويمه برخه

### دپښتو اولسي ادبياتو وېش :

په نړئ واله كچه د فلكلور په هكله ډېرې وېشنې راغلي ، خو مونږ ترې يو انتخابوو اوورسته خپلو پښتو ادبياتو ته د كره كتنې پام ور اړوو .

فلكلور درې برخې لري : [٢]

١ _ شفـــاهـــي فلكلور

٢ _ غير شفاهي فلكلور

٣ _ نيم شفـاهـي فلكلور

١ _ په شفاهي فلكلور كې : محاورې ، متلونه ، سندرې ، چېستانونه ، فكاهيات ( ټوكې ) دودونه ، موسيقي ، سيمه ايز خواږه سيمه ايز ادب .

٢ _ په نيم شفاهي فلكلور كې : خرافاتي عقيدې ، سيمه ايزې لوبې نڅاوې او

---

(١) دپښتو شعر هندسي جوړښت ( ٩٢ ) مخ

(٢) دبېنوا انټرنيټي پاڼه Benawa . com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور راځي[۱]. په عمومي تو ګه ادبيات كه دهرې ژبې وي په منظومو او منثورو وېشل كيږي همدا سې د پښتو اولسي ادبيات هم په ادب وېشل كيږي .

## منظوم :

پښتو منظوم شعرونه بيا په دوه بر خو وېشل كيږي :

الف : عامې اولسي سندرې يا شعرونه ، ب : ځانګړې اولسي سندرې

الف : عامې اولسي سندرې هغه دي چې ويناوال يې معلوم نه وي ، لكه : دميند و سند رې ، دماشومانو سندرې ، منظوم چېستانونه ، داتڼ نارې ، سروكي ، لنډۍ ، د نكلونو نارې ، كاكړۍ ، تاريخي نارې ، منظوم پالونه ، منظوم متلونه ، ښځينه سند رې ...

يادونه : مونږ منظوم شفاهي ځكه وايو چې قافيه او رديف لري او منثور شفاهي ځكه وايو چې دنثر په قېد موجوددي ، داددې دليل نه دی چې ګواكې په ليكنۍ بڼه په اولس كې شته .

## دمنظوم اولسي ادب ژوندۍ بېلګې او محتوا :

### ۱_ دميندو سند رې (أ لا هو) : ( LullaBy)

هغه اولسي سندرې چې ميندې يي دماشومانو د اوده كېدو پر وخت دكرارولوپه موخه وايي . ماشوم په غېږ كې داچولو پر مهال په ورو، ورو ټپوي او ورته دأ لا هو د غږ په بد رګه داسند رې واي : داسند رې دمور د احساساتو اوعا طفې دسپېڅلتيا ځرګند ونه كوي ، خو په ځينو أ لا هو كې دخور جذبات هم ليدل كيږي ، ځكه چې دكوچني په روزنه كې خور هم پوره ونډه اخلي .

په أ لا هو كې دماشوم دراتلونكي لپاره دعاګانې ، دخپلو او پردو دستاينې

---

[۱] ادب پو هنه ، سيد محی الدين هاشمي ، داريک دكتابـتونـونو اداره ، كال ( ۱۳۸۱ هـ ش ) ۱۰۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوويارني په ساده اوغير فني تكتيک سره په كراره كراره په يو خاص سند ريزوزن اوو زم ويل كيږي چې يو ځانگړې او خوږ تاثير لري ، دا بېلگه يې رااخلو :

أ لا هـــــو شـــــه أ لا هو شـــه . زمـــــــــــــاجـــانـــه أ لا هو.
پلا ر دې تلی دی په جنـــگ .    دوطـــــــن په نـــامـــو ننـــگ
يـــوټوپـک پـــه غـــــــــــاړه . بلــــــــــه ښه توره په څنـگ
گټــــــي تـــاتـــــه بـــه پښتـــو.أ لا هـــــو شـــــه أ لا هــــــو
خـــوب دې درشـــي په لېمـــو        زمــــــا جـــانـــــه أ لا هـــو[١]
د میندو سند رې په بېلا بېلو ډولونوله میندو له خوا ویل کیږي .

## دماشومانو سند رې :

دماشومانو سند رې ماشومان په لوبو اوتفريحی حالت كې لولي ، يا دمشاعري په ډول دې اويا هم دا سند رې په يوازې توگه ماشومان وايي دا سند ر ې او شعرونه هم په ساده ډول  او درواني نگه محاورې په چوكاټ كې ويل كيږي . چې دلفظ او لفاظی جنبه يې دمحتوا په پر تله قوي  وي . دماشومانو سند رې دقافې او رديف د سمبټ په موخه بعضې وخت هيڅ تسلسل ( لفظي او معنوي تړاو ) نه لري .
دماشومانو سند رې خورا ډيرې دي . چې ځيني يې دادي :

اكــــــو بكــــــو ســــــر سينـــــدكــــــو
ابــــــــــاسيــــــن څپــــــې څپــــــــې
غـــــــوامـــــې لا ړه پـــــــه رمبــــــــي
په ميدان كې دوه هيلۍ دي دواړه گوتي خوځوي .

×××

همدارنگه بله بېلگه :

چـــرگـــــه مـــــــې نـــــاجــــــوړه ده
بـــانـــــــه مـــــې ورتـــــه جـــــــوړه ده

×××

[١] فـفـلـيـات ( ادبـي اصطلا حات ) ٥٨ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډم ډم دچـــــــــــــــــرګ واده دی
چــرګ پـــــه لا ره کــــــې بیـــده دی

×××

ځـــــئ چـــــې ځـــــوکـــــو روتـه
مـــرغــئ ولا ړې چـــــولــــــوتــــه [1]

## منظوم چیستانونه ( پوښتنې ) :

پوښتنې نظمونه اکثره د کوچنیانو او ځلمیانو له خوا پخپلو مجلسونو کې ویل کیږې او یو بل ته یې وړاندې کوي دې ډول ادب سره دماشومانو ذهنونه او قریحې پیاوړې کیږي چیستانونه د معما په ډول ګونګه بڼه لري ، خو د ځینو قرینو له مخې یې د پیژندلو او ځواب را ایستلو لا رې اسانه کیږي ، لکه :

| | |
|---|---|
| لـــــه پاسـه راغی سور بـلــــــوځ | |
| اغوستی یې دی پنځه پنځـوس | × پیاز × |
| وچ کـلـک لــــــه کـــولمــو ډک | × کټ × |
| زمـــــا سپینـــــه کــــــوټـــــــه | |
| نــــه یـــې لا ر شتــــه نــه کـوڅـه | × هګۍ × |
| ســـل خـــــــولــــــې لــــــري | |
| نـــه ګېــــډې نـــه کـولمې لري | × غلبېل × |
| ســــوردې سنـــــــد وخـــک دی | |
| لـــــــه ســــــرو غمیــــو ډک دی | × انار × |
| نـــــه یـــې پښـې شتـه نـه لا سونه | |
| یـــوکـــامـــان وهـــــي تـــوپونـه | × پنډوس × |

---

[1] دکوچنیانو ادبیات ۱۶۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جــينـــجــــړ تـــاتــه جينـجړ مـاتـه

جــيـنـــجـــړ وخـــاتــه اسمـان ته × لوړی × [1]

**داتڼ نـارې :**

داتڼ نـارې لكه له نا مه څخه يې جوتيږي يوازې په اتڼ كې ويل كيږي په ناستې اوبې له اتڼه نه ويل كيږي او كه وويل شي خوند نه كوي . ښځې هم په خوښيو كې اتڼ كوي او نـارينه و داتڼ نـارې ښځې هم پخپل اتڼ كې زمزمه كوي ، خو ښځې بيا ځانته بېلې داتڼ نـارې هم لري . داتڼ نـارې پر ډول ډول او بېل وزن داتڼ چيانو له حركاتوسره سم ويل كيږي ، لكه :

ښـــاپستـــي كـــــه ستـــا رضـــا ده

ستـــــا دقـــام بــــدي پـــر ما ده [2]

يـــــــــــــــا :

زمــــــا ، زمــــــا شېـــــــرينـــــــې

وكـــــــړه اداشـــېـــــريـــنــــــــې

د اتڼ نـارې دمحتوا له كبله زياتره وخت عشقي بڼې لري ، خو حماسې نـارې هم شته ، مثلاً :

غـــــازيـــــان كـــــړي اتـــنـــونـــــه

درتـــــه خـانـدي غرونـه ، غرونـه

غـــــازيـــان راغـلـــــه جـــوپـــــې

پـــــرې شيـنـــدي جـونـــه گلـــونـه

**سروكی :**

[1] دكوچنيانو ادبيات ( ١٦٧ _١٦٨ مخونه )
[2] دپښتو شعر هندسي جوړښت ( ٩٩ ) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو داسي اولسي نظم دی ، چې په ټوله پښتونخواکې د پښتو په منځ کې ډېر مروج اودود لري په سروکي کې دپښتني دود ټول مضامين دلنډيو په وراچولو ځايږي ، سروکې تاريخې ، عشقي او اخلا قي جنبه لري . اکثره عشقي سروکي دښځو له خوا لوستل کيږي ، چې په لا ندې ډول دي .

تاريخي سروکي :

خـــانـــه راځـــه دلـــبـــره .
ډکــې لا رئ دجينــکو لنــدن تــه ځينــه
دجينــکو قـــدر يـــې کـــم کـــړ .
امان الله ته دې خدای (ج) لونې ورکوينه
خـــانـــه راځـــه دلـــبـــره .
ډکـې لا رئ دجينــکو لنــدن تـه ځينــه
× × ×

عــبـــدالـــرحـمـــانـــه زوروره
دشـــاغـاســي کـلا دې ولـــې ورانــولــه
دپښتنـــولا رې شـــوې بنـــدې
دې انگريزانو په مونږ ډيروکړل ظلمونه

عــبـــدالـــرحـمـــانـــه زوروره
دشـــاغـــاســي کـلا دې ولـــې ورانوله .

اخلا قي سروکي :

زويه بيـــدارشـــه
په مينه ښکل کړه دخپل مور او پـلار لا سونـه .
کـه نيک مرغي له خدايه غــواړي
د مشر منه او په کشر کړه رحمونـه
زويه بــيـــدارشـــه
په مينه ښکل کړه د خپل مور او پلار لا سونـه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عشقي سروكي :

اوبـــــــــه دې وږيــــــــــــــنــــــــــــه

پاســه لا لـيــه مــازيـگــردی اوبــه دې وږينــه

مــنـــــگـــــی پـــه ورو ، ورو ډكـــــوه نـــــو

اوبــــــــــه دې وږيـــــــــــــنــــــــــــه

چــــې مــې لا لـی لـــه خــوبــه پانه ســي مـينـــه

پـــاســه لا لـيــه مـــازيـگــر دی اوبــه دې وږينــه

## لنډۍ ( ټپه ، مسره ) :

لنډۍ داسې يو منظوم شعري فورم دی چې پرته په پښتو ژبه كې نور په هېڅ يوې ژبه كې نه ليدل كيږي . لنډۍ دفورم له مخې خوراكوچنی ، خو دمحتوا له مخې ډېر دروند معنوي بار ليږدوي ، لنډۍ په پښتوژبه كې ډېر لر غونی تاريخ لري . هغه وخت چې اريايانو دكوم ځانگړي مطلب او موخې له پاره گلان ريبدل اوله شيدوپې كيدای شي كومه مخصوصه دواء جوړېده نو دا خبره په دې ټپه كې ښه جوته كړې ده .

سپــــوږمـــۍ ځــرک وهـــه راخيــــژه

جانان دگلو لو كوي گوتې ريبينــــــه

دلنډيو فورم له دوونيم بيتو څخه جوړدی ، لومړۍ مسره يې ( ۹ ) څپې اودويمه مسره يې ( ۱۳ ) څپې ده .

پــــاس پــــه كـمـــــره ولا ړه گــلــــــــه

نصيب دبل شوې اوبه زه درخېژومه

× × ×

پــــه كشمـــــالــــو كـــې مـې حلا ل كړه

چې جنازه مې ښاپيري اوچته كړينــه

× × ×

سپـــوږمـــــۍ تــاتـــه دې ســــــلام وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـا بـه زمـا جـانان ته ډېر كتلې وينه

## چاربيتې :

داهم دپښتو منظوم ادب يو داسې فلكلوريک ژانر دی چې اوږد او سندريزه جنبه لري د مضمون له پلوه هر اړخيزه مضامين ليږدوي چار بيتي په اولسي ادب كې خورا مشهورې منظومي دي . دچاربيتي هر بند له څلوره مسرو څخه كم نه وي ، خو اوږده موضوع بيانول ددې فورم ځانګړنه ده چاربيته كيداى شي چې هر څو بنده ولري . راځئ چې د چاربيتې يوه بېلګه دلته راوړو :

دپښتني پېغلې له خوا

نـــــاستـه يم دفـكر پـه تـال زانـګم چېـرته يـــار ګورم
زه مستـــه ليـــلايم ستـــرګـي اچـــوم خـريـــدارګـــورم

× × ×

نـــــاستـه يـم دفـكـر پــه تـال زه نېشـــه دبـې ننګـويـم
تـېـــرشو پېـغلتوب راباـنـدې ونـــه دلـونـګـــو يـم
يــم پــه عطـرو وتـره ګـوښـه نـاستـه لـه بې نـنـګـــويم
ځان له دمجنون پــه شان په صدق كې دلـدار ګـــورم

× × ×

ســــره لـمبـــه داور دعــــاشـقـۍ مـې په بدن لګـي
ستـا دخـولـې خبــرې ځـكــه ما بـانـدې مـلـهم لګي
غـوڅـو پـرهـرونـــو تـــه پـټـې پـــه څـــو رقـم لـګـــي
ستـــا رنـګـــارنـګ خـنـــدا ډول او سنـګـــار ګـــورم

× × ×

نــاز بــه پـر هـغـه وړم چې غـيـرت پـه روح او تن لري
شــــوق دازادۍ دويـــنــــو دادســـره كـفــــن لـــري
زه بــــه دهــغــــه شــم چــې دې مـيـنـه پـه وطـن لــري
سپينه خوله به وركړم چـې دی راشـي ورتــه لارګـورم

× × ×

سپينه خوله مې ستاده،غير غماز ورته راتلی نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې بـــاغ د تــوتيـــانــو تــه تېــوس او زاغ کتی نــه شي
تـــاوتـــرې نـــه زمـــری گيـــدړان ورتـــه ختـــی نـــه شـــي
زه حـضـرت ولـي يـار دوطـن زلـمـی نـامـدار گـورم[۱]

× × ×

## ( الف) منظوم متلونه :

متل د مشرانو هغه سپېڅلي په تول پوره دمعنی نه ډکه او لنډه جمله ده چې زمونږ دپښتنې اولس دژوند او ژواک اخلا قي استازيتوب کوي . که دنورو اولسي شاعري او فلکلوريک ادب ليکوال او ويونکی يې نه دی معلوم دټول ملت گډه شتمني ده .

تل په لنډ بحر او سپلاب کې ستر مفاهيم او معنوي څواک لېږدوي متل خورا فصاحت او بلا غت لري . هم موزون وي او هم روان په متل کې هره جمله او تر کيب دانساني ژوند دبېل بېل اړخ سره تعلق لري دپوهې معقولې او په تجربواستوارې نکتې په کې پرتې دي لکه :

۱- چـــې څــــــه کـــــــرې
هـــغـــــه بـــــه رېــــــبـــــې
۲- چـــې څـــه تـيـــار دي
هـــــغــــــــه ديـــــــــار وی
۳- بـدخـوی چې زورور شي
نــو عـقـــل مـــرور شـــــــي
٤- ژرنــــده کـــه د پــــلار ده
خـــــــــو پــــــــه وار ده

## ( ب ) خاص منظوم اولسي ژانرونه :

داهغه ژانرونه دي چې د اکثرو ليکوال معلوم وي ، په دې کې ، غزل ، ځلوريځې ، داستانونه ، مقام دوه ايزې او داسې نورراځي . دلته دا پوښتنه پيدا کيږي

[۱] پښتانه شعرا ، عبدالله بختانی (( خدمت گار )) دريم ټوک ، دولتي مطبعه ، کال ( ) ۲۲۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



، چې نيمه عروضي ( ديواني ) منظومې دي ؟ ځواب به مو داوي ، چې په پښتو اولسي ادب كې پورتنۍ ذكر شوې منظومې په اولسي وزن او څپو برابرې دي . ځكه يې خاص اولسي منظوم ژانرونه بولو . اوس دهمدې منظومو بېلګي رااخلو :

## غزل :

اولسي غزله څه په بل ډول وي ، چې دعروضي غزلو سره كاملاً توپير جوت دی .

مثلاً :

يـــار چــې جـلا شـي خلكو دادی پېغور
لـكـــه يـعـقـوب ورپسې شـومه شوكور
كـلـــــــه بــــــه راشــــــي دلــبــــــر چــــــې پــــــه
خـــنـــــــداشــــي دلبـر تـر جـار بـه كـړم سـرومـال كلی وكور
مــيــنـــــــې ديــــــار كـــــړم رنـځـــور
احـــوال مــــې دي دمـنـــــصــــــــور نـشـتــه ثاني دې نـورتــه يـې غمـخـور
اخـر يــې تـن شـوكـبـاب د عشـق پـه اور بـندي دزلفو په دام پروت دی نسكور
حـبــيـــب الله دی غـــــــــــــــــلام غـــواړي
دســـــــرولـــبـــــــو جـــــام

## مقام :

مقام هم داولسي غزل په څېر خورا ساده او عام فهمه پښتنی ژانر دی ، چې دداستان او غزلو څخه مخكې يا په منځ كې ويل كيږي .

لكه :

دكـم اصـــلو لــه يـارۍ نـه واخـلـــه لاس
مـــه غـولـېـږه دهـغـو پــه تـش لــبـــاس

دكــــم اصــــلو يــارانــه دخـره سـورلي ده
عاقبـت بـه دې په كنده كړي راخـلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــه اصیــل سره دې لږه نیــکي وکـــړه
شــامــدام بــه درنــه گرځي کوزو او پاس
لـــه کـــم اصـــلـونـه وفاکلــه مونده شـــي
دا متل دی په هر ځای کې عام و خاص
چې لــه لـرې نــه يـې گـورې ورنــه تېښـته
گلســتـــانـــه ورســـره مـــه کــوه بــاس[۱]

## ځلوریځه :

نــظـــر مې وکــړ کــون ومــکــــــان ته
دې کښتې، پورته ځمکــه اسمـــان تــه
څــــه چـې لـیـــده شـو ، یـــــوازی دی و
شتـــون دذات دی گـــوره جــهـــان ته [۱]
( ملا احمد قندهاری )

## چاربیته :

هغه اولسي ژانر دی ، چې بیتونه يې له ځلورو مسرو کمه نه وي . په چاربیتو کې هرډول مضامین لیږدول کیږي . اولسي چاربیتي د دیواني چاربیتو په پرتله ډیرې سندریزې دي ، دبرهان الدین ننگرهاري دا چاربیته دبېلگي په ډول راوړو :

سپـیـن جبـیــن دی نـورانـــي مـاه تـابـان دی
دښــایست شـغلي تــرې خیـژي پــه هر لورې
تور کاکل دې په سپین مخ گل دریحان دی
اتشـــي پیـــزوان دې تـــل پـــه لبـــو ښـــودي

[۱] دپښتو شعر هندسي جوړښت . ( ۱۱۷ ) مخ
[۱] پښتانه شعرا دوېم ټوک . ۴۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



×××××

سپیـــن جـبـیـــن دې نـوراني شغلې دلمـر کا
دښـــایست دې پـه تمـام جهـــان کـــې نوم دی
ټول صورت دې خوشبويې دمشک عنبر کا
نـــه پټـېـړي شـــان و شـکــل دی مـعـلــوم دی
ښـــاپـېـــــرۍ ټــول ننداری ستـــا د ذیـــور کا
دبېـلـتــــون دلا ســـه تــل مـیـــن مـظلـــوم دی
دمــجـنـــون پـه شـان مـې سـر پـه بیـابـان دی
پېـغـــامـونـــه تـل راځـــي داستـــادلـــورې

×××××

د مجنـون پـه شاني ګرځي واخله لا س له ما
نـــه جـــــوړېـــږي ستـــا شـــړۍ زمـــا لـــه شالـه
تـــاتــــه شـــاتـــه غـلامـان په دردی خاص زما
ښـــه ښکـــاري هـــــــر ســــــړی دخپلـه سیاله
قـرار کښـېـنـــه نــور هېڅ مه کړه التماس زمـا
هــــرچـــې ځــــــای هـــره مـــرغۍ لـــه هره ځاله
نـــزدیـکت زمــــا او ستـــا پـه رښتیا ګران دی
ستا پـه شان دی ماته نور هیڅوک نه ګوري

×××××

نــزدیـکت کـومـه ستـا ، پـلـو پـه ژونـد یمـه
کـــلـــــه تمــــه قطـــع شـــــي، دعـــاشـــقـــانـــو
ستـــا دمینې پـــه اور سوزمـه ، دردمند یمـه
زورولــــــی یـــمــــــــه ډیـــر ســتـــــا غـمـــازانــــو
لـــه بـــاقـــي عمر نه خوښ د مرګ په بندیمه
چـــې پـــه ستـــرګـــو نـــه وینـــم وردخـــوبـــانـــو
هــــــــر عـاشــق ته جدایي تـــه مرګ آسان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دعشق كتاب كې لـوستى دغه تــور دى

×××××

هر عــاشــق تــه جدايي لــه مـرگــه سختــه ده
پــه رښتيــا سـره ، چـې زړه كې صادقان دى
پــه نـصيـب كـي ورتــه ، ليـكه دادوخـتـــه ده
تـقـديـري كــارونــه كـل د پـاک سبـحـان دى
دمينـــو دونـيــا گــى ډيــره بــدبـخـتــــــه ده
شپــه او ورځ دعشـق لـه درده ، پـه گريان دى
(( برهان الدينه )) سـرومــال دى دجـانــان دى
كـه څه هم جانــان دى ځان له تانه ژغوري [۱]

×××××

## داستان :

داستان د اولسي ځانگړو سندرو د يون ځانگړي فورم په تو گه دشكل او مضمون دواړو له پلوه ځانته خاص سكښت او بېل جوړښت لري . او د اولسي ادب هرڅيرونكي په دې پوهيږي ، چې زمونږ اولسي ادبيات دمضمون له پلوه زمونږ د اولس دقامي ژوند هنداره ده او د شكل له پلوه زمونږ دژبې خاص ملي اهنگونه دي ، چې زوږ اريايي اساس لري او پښتانه مجلسيان يي په ځانگړي وزن او خاصه لهجه وايي . داستانونـه هم د اولسي خاصو سندرو د نورو فورمونو په څېر اوږده ماضي لري او لومړي ځل ويلو اوځاى او نېټه يې معلومه نه ده . بوازې د داستانونو هغه ببلگې ، چې د پټې خزانې په واسطه لا س ته راغلي څلورسوه كلن عمر لري په پټه خزانه كي دحافظ عبدالطيف اڅكزي د ( سوى او اوبښ ) فولكلوريكه كوميدي ، انتباهي داستان راغلى ، چې دلته يې يوكسر او يو بند راوړو :

---

[۱] پـښتـانـه شعرا دوېـم ټـوك ( ۸۷ ) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړ ونيسئ يارانو داوښ اوسوی قصـه سوه

خورا ډيره خوږه ســــــوه

يو سوی د اوښ اشنا ســو

بې حده يې همــــرا ســـو

ياري به يې كوله يوله بله يې يارانـــه ســـــوه

خــورا ډيـره خــوږه سوه[۱]

علی حيدر (( جوشي )) د داستان دابېلگه :

عزرائـل ( ع ) راغـی تـرنـبـي اخـرزمـانـــه

روح راكـړه مـهـربـانـه سـرداردمدينــــــي

عــزرائـــــل ( ع ) راوړداپــيــغــــــــــــام

رســـول ( ص ) تـــه ودرپـد لاس پـه نـــــام

خــدای ( ج ) پـــه تــاوايـــي ډيـر ســـــلام

پس لـه سلامـه دې سفر دی لـه دنيانـــــه

روح راكـړه مـهـربـانـه سردار دمدينــــي

## درېمه برخه

### شفاهي ( منثور ) اولسي ادبيات :

اولسي ادبيات هغه دي ، چې رامنځته كوونكي يې معلوم نه وي . لنډې خوږې او پخې ويناوې دي چې داولس په زړه كې رامنځته شوي دټول اولس گډ مال

[۱] دپـښـتـو شعـر هـنـدسي جوړښت ( ۱۲۳ ) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی . خوله په خوله ، سینه په سینه له یوه نسله تربل رانقل شوي . [1]متلونه اصطلاحات ، چېستانونه ، سترې مه شي ، ټوکې ټکالې ، دعاوې اوخیراوې کړنې ، او انګېرنې او داسي نور په شفاهي ( منشور ) ډول په اولس کې موجودې وي .

## منثور متلونه :

دمتل تعریف مخکې په منظوم متل کې راغلي ، دمنثور متل مهمه ځانګړنه داده چي د منظوم په پر تله دخلکو په خولوکې کم استعمالیږي .

ژوندۍ بېلګې يې دادي :

که غر لوی دی په سر يې لا رشتــه .

لمــر پــه ددوګـوتــو نــه پټېـــږي .

اخـتـــر پټ مـبـــــړه نـــــــــه دی .

دنـــن کـــــار سبـــاتـــه مـــه پرېږده .

دکبـــر کـــاســـه نســـکــــــوره ده .

لـه پيتی نـه سوې غوښه ښه لګـي .

## پوښتنې یا چېستانونه :

چېستانونه اکثره دکو چنيانو پورې اړه لرې او د خپلو مشاعرو او مناثرو په ترڅ کې يي وايي . لکه :

داڅـــــــــه شـــــــــــی دی ؟

چې سهــار پــه څــــلــورو پښو

غــــرمــــــــه پـــــــه دوه پښـو

اوماښام په درې پښو ګرځــي .

ځواب يې داسې دی :

- ماشوم توب .
- ځلميتوب .

---

(1) ادب پوهنه ، سیدمحی الدین هاشمي ، داریک کتابتون ، کال ( ۱۳۸۱ هـ ش ) ۱۰۸ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- او بوډاتوب .

ټوله شپه ګرځي او بېګا ته يوه روپۍ ځای نيسي .

(( امساء ))

لاسـونـه لري پښې نه لري .
تــن لــري سـرنــه لــري .
غوږ لري اوريدل نه کوی .

(( کميس ))

## کږنې او انګېرنې :

دا ښکاره ده ، چې فولکلوريک مواددکرونولوژۍ او سوسيولوژۍ دڅېړنو له مخې دارزښت او اهميت وړ ګڼل کيږي داځکه زيات فولکلوريک مواد نه يوزاې دا چې ريالستې بڼه لري ، بلکې ډيوې ټولنې دفرهنګ او کلتور معيار دتاکلو له پاره ديوه واحد په توګه ګڼل کيږي .

ددغو لنډو ټکو پر بنا زمونږ په ټولنه کې کرکې ، کږنې که څه هم د خرافاتو له جملې به شمېرل کيږي ، خودا چې په دې کې زمونږ د اولس دکلتوري او فرهنګي ژوند ببلا بېلې خواوې ترې ځرګنديږي څېړل اوراټولول يې ضروري کار ګڼل کيږي ، دا به سمه وي . چې کرکې به عيني ، منطقي او علمي بنسټ نه ګڼل کيږي ، خو دا چې اولس او بانده والو کې ديوې پښې دمخنيوي له پاره دځان ساتلو په عرض تر سره کيږي په درنښت ورته ګوري دساري په توګه دچاچې دښي لاس ورغوی وتخنيږي خوشحاليږي او داسې داسې انګيري چې پيسې او شته به په لاس ورشي . اوکه چېرته دچا کيڼ لاس وتخنيږي ، نو داسې انګېري ګواکې شته او دولت ورڅخه تلوني وې .

له دې کبله ويلای شو [1]، چې ددغو فلکلوريکو موادو اهميت او خوند په دې کې دی چې داولسونو دوکړوتر منځ يې لرغونی او پخوانی ماهيت او بڼه ساتلې ده ،

---

(۱) دپښتو ځينې فولکلوري روايات : سرڅيړونکی : علی محمد(( منګل )) ازهر خپرندويه ټولنه کال ( ۱۳۸۵ هـ ش ) ۶۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې له پاره چې موضوع ښه روښانه شي يوبل مثال هم راوړو :

**کړنه :**

کله چې کينه سترګه په رېپدوراشي ، اولس داسې انګېرنه کوي ، چې يوڅه بد پيښېدونکي دي اوداخبره په ننګرهار او کوز ه پښتونخواکې دودلري .

**انګېرنه :**

که چېرته په ( چايوو ) کې دچي شمې نبغه نبغه تاوېږي ،نو داسې انګېرل کېږي ګواکې ميلمه راځي .

يا داوبو پړخ کول . او يا هم د اوړو اغږلو کې د اوړو څخه غږ پورته کيدل .

همدارنګه که د چا په خواکې يو بل کس خپله ستوماني وباسي يا خوله وازی وکړي ، نو په مشرقي اولسونوکې داسې انګېرنه کېږي ، چې خپله ستوماني يې پرما راواچوله [۲].

**ستړي مه شي :**

د اسلام دسپيڅلي دين په راتګ سره په افغاني ټولنو کې د سلام اچوني عنعنه راګډه شوه ، دمذهبي دعايي او عظمت له کبله يې په اولسونو کې ډېر ژرځای ونيو .

ددې تر څنګ په افغاني ټولنو کې داسې اولسي روغبړونه په ښکلو ښکلو وزنونو او بڼو دود لري چې دډير صميميت له کبله په عادي وخت کې دملګرو او عامو وګړو ترمنځ استعمالېږي . په عادي او عمومي حالا توکې دمشرانو او کشرانو تر منځ د ( ستړي مه شي ) اصطلاح استعمالېږي . چې ستړی مه شې ، ستړی مه شې ، .

دراتګ پر مهال پخير راغلاست ويل کېږي . او هر کله چې له لېري ځای څخه يو پر بل سلام اچوي ، نو د ( ښه چارې ) غږ پرې کوي . په مقابل کې ورته لا ندې ځوابونه ورکول کېږي .

---

[۲] اولسي را ټولونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ تـــه ( تــاســو ) ستړي مــــه شــئ !

_ مـــــنـــــــه / مـــهــــــربـــاني !

_ ژونــــــــــدی اوســــــــــــی !

_ دښه چارې پر وړاندې ښه چارې .

## کيسي او افساني

:

کيسي او افساني د فلکلوريکو ادبياتو يو داسي مهم اړخ په غيږ کې نيسي ، چې د اولسونو او خلکو دمعنوي او مادي اړخونوانځورگري . کوي کيسي او افساني د ټولنيز ژوند معنوي هنداره ده . د پښتو ادب اولسي کيسي او افساني ، عشقي ، حماسي ، او روزنيز مفاهيم پخپل ځواک د خلکو ذهنيت ته ورلېږدوي . همداکيسي او افساني دي ، چې دپښتني ټولني دود ، عنعنه ، کولتور او د فرهنگ استازيتوب کوي ، لکه د ادم خان او درخانۍ کيسه ، ديوسف خان او گلمکۍ کيسه ، دمومن خان او شيرنۍ کيسه . .. په فلکلوريک ادب کې دمنشور شفاهي ادب خلا ورډکوي .

( پايله )

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې ليکنې څخه زمونږ اره موخه او هدف دادی ، چې پښتو ادب او دپښتو اولس ټول معنوي ارزښتونه خونديِ وساتل شي . او د ليکنې منځپانگه او نتيجه داده چې پښتو اولسي ادب دپښتنې کلتور ريښتيني هنداره ده . او دې اولس دژبي ، عنعنی او مېتولوژۍ نماينده گي کوي . اولسي ادب دخلکو دروان او اروا پوهنې انځور تمثيلوې او په پيداگوژيکې جنبه خپل اولس دښووني او روزنې دگرکې په فکري لحاظ روزي . فلکلور زمونږ د تاريخ ژوندی کوونکی عنصر دی . افسانې ، متلونه ، او منظوم اولسي ژانرونه ټول معنوې ارزښتونه پخپل غيږ کې رانغاړي . چيستانونه دماشومانو ذهنونه پياوړې کوي ، دود او انگېرنې داولس سوچه او نگه تومله په خلکو کې ساتي .

لنډه دا چې فلکلور داولسونو او پر گنو ټولنيزه هنداره ده . داوسنۍ پر مختللې نړۍ د پر مختگ تاداو په پخوايې او لرغوني فلکلور کې ايښودل شوی او دريالیزم بنسټ او سر چينه همدا اولس او اولسي ادبيات دي .

## کتاب ښود ( ببلوگرافي )


١- ختک ، فضل مير (( ادبي اصطلاحات )) پښتو اکيډمي کال : ( ١٩٩٩ م ) .

٢- هاشمي ، سيدمحی الدين ، ادب پوهنه ، اريک کتابتون ،کال ( ١٣٨٠ هـ ش ) .

٣- حبيبي ، عبدا لحی ، پښتو ادبياتوتاريخ ، لومړی او دويم ټوک ، دانش خپرندويه ټو لنه ، پېښور . ( ١٣٨٤ هـ ش ) .

٤- يون محمد اسمعيل ، دپښتوشعر هندسي جوړښت ، دانش خپرندويه ټولنه ، کال ( ١٣٧٧ هـ ش ) .

٥- اريانا دايرة المعارف ( دريم جلد ) پښتو ټولنه ، کال ( ١٣٤٣ هـ ش ) .

٦- هېواد انترنيتي ويپانگه ⟸ : Hiwad@yahoo.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- بېنوا ويپانگه ⟸ : Benawa@yahoo.com

۸- خدمتگار ، عبدالله (( بختانى )) پښتانه شعرا ، ( دويم ټوک ) دولتي مطبعه ، کال (.)

۹- منگل ، على محمد دپښتوخپني فولکلوري روايات ، ازهر خپرندويه ټولنه کال ( ۱۳۸۵هـ ش ) .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**